# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Historical | تاریخی |
|---|---|



قاسم باز


۰۷ جون ۲۰۱۶

**ای ملتی که در سخت ترین پیکار های تاریخ پر افتخار خود همت عالی و غرور ملی خود را از دست ندادید، چرا امروز به خود احساس ضعف و ناتوانی می نمائید.**

**از بیانات شهید محمد داوود اولین رئیس جمهور افغانستان.**

## شهید محمد داوود و معضلۀ مهار کردن آبهای افغانستان !

امروز در سایت ملی سباوون (دعوت) مقاله ای جالب و ارزشمند به قلم هموطن گرامی آقای « توریالی ملیار »، در مورد پروژه های بندهای برق و انهار آب و مهار کردن آبهای افغانستان در دوران ریاست جمهوری شهید "محمد داوود" نوشته شده بود، به بسیار علاقه و دلچسپی خواندم، نویسندۀ محترم به این موضوع حیاتی و ملی افغانستان از نگاه منافع کشورهای همسایۀ افغانستان و کشور عزیز ما به بررسی عالمانه و تحقیق همه جانبه تحریر داشته، نویسندۀ وطن دوست آقای ملیار در بخشی از مقالۀ خود به مسألە و معضلۀ مهار کردن آبهای افغانستان چنین نگاشته.

«سردار محمد داوود خان چې کله د افغانستان اوبو مهارولو لپاره د یوې منظمې ستراتیژۍ له مخې د اوبو بندونو او برېښنا کوټونو د جوړولو لپاره متې بډ وهلې ورسره سم ایران او پاکستان په دې پیل و کړ چې څرنګه د داوود خان د دغو پلانونو مخه ډب کړی- د اوبو نړیوالو قوانینو له مخې ایران او پاکستان نه شوای کولې له خپلې حقابې زیاتې اوبه وغواړی، نو په افغانستان کې یې تبلیغاتي او استخباراتي جګړې ته ملا وتړله او ادا دی نېږدې څلور لسیزې افغانان په یوه پردی او نیابتي جګړه کې سوزېږی.

که څه هم هغه مهال چې ایران د رضا شا له خوا اداره کېده د اوبو ستونزه ورته دومره ستره نه ښکارېده او دواړه هېوادونه د هلمند اوبو د ویش په اړه یوې هوکړې ته هم ورسېدل خو په ۱۳۵۷ کال کله چې د خمینې مذهبی دولت رامنځ ته شو نو د ایران حکومت ته دغه پرېکړه د منلو وړ نه وه او دوی غوښتل د هلمند سیند له اوبو تر خپلې حقابې څو چنده ډېره ګټه واخلي او د تاریخی هریوا شنې اوبه هم ایران ته وبهیږی. همدا ډول پاکستان هم د کابل- کونړ سیند په اوږدو کې د بندونو په جوړلو اندیښمن و او کله چې هغه مهال په کونړ کې د اوبو د ستر بند د جوړېدلو لپاره افغان حکومت لومړنی هلې ځلې پیل کړې نو پاکستان یې د مهارولو لپاره له وخت مخکې لاس په کار شو هغه مهال یې د مسعود، ربانی او حکمتیار له خوا د ډلګیو رامنځ ته کولو ته لاره پرانیسته وسلې یې ورکړې او له بله اړخه یې په

داوود خان او د هغه حکومت پسي داسي تبلیغات پیل کړل چي له مخي یي د ولس په منځ کي د وخت حکومت یوه خدمتگاره اداره نه بلکي د روس یو گوډاگی حکومت معرفی کړ دغه استخباراتی گنگوسي په خلکو کي تېت شوې د اخوان المسلمین غړو ته یي د وسلو په ورکولو یو ناروا حرکت پیاوړی کړ او عملاً تخریبی هڅې پیل شوې د افغانستان اوبو او ډیورنډ لیکي لپاره د افغانستان د حکومت د تکفیر بهانه ښه پیاوړې شوې وه او له همغه وخته بیا د افغانستان اوبو د مهارولو لپاره افغانستان کومه بریالی هڅه ونه شو کړای.

حتی د دوی تبلیغاتی جگړه دومره اغیزمنه وه چي په ځینو افغانانو یي منلي وه چي گواکي داوود خان د اوبو بندونو په جوړولو سره ولسونه تر ابو لاندي کوی.»

همچنان آقای توریالی ملیار در بخش دیگر مقالهٔ خود به ۲۹ پروژهٔ خرد و بزرگ نظام جمهوری شهید محمد داوود اشاره نموده، می نویسد.

« د دې ترځنگ ولسمشر د ۲۹ وړو بندونو د سروې، جوړلو او بیا رغولو لپاره هم متې بډ وهلي دغه واړه بندونه په داسي سیمو کي دی چي تر ډېره له گاونډیو هیوادونو سره پکي د ستونزې کوم دلیل او نښه نه لیدل کیږی نو له همدې امله به یي کارونه په چټکی پیل او تمه ده چي په خپل وخت بشپړ شی، له بله پلوه ولسمشر د کمال خان بند د جوړولو(بشپړولو) او لویه کي د هلمند سیند د اوبو مهارولو کلک هوډ څرگند کړ او همدا ډول په کونړ کي د کابل، پنجشیر، لغمان سیندونو اوبوته د یول لوی بند د جوړولو هوډ هم لری هغه بند چي څو کاله وړاندې یي د جوړولو اوازې خپرې شوې خو د عملی چارو څرک یي لا نه دی لیدل شوی، له همدې امله هغه اندېښني چي ځلوېښت کاله وړاندې د ایران او پاکستان له حکومتونو سره وې یو ځل بیا ر اپیدا شوې ځکه ایران کوښش کوی د افغانستان په لویدیځ او جنوب لویدیځ کي د جگړې سنگر گرم وساتی، طالبان په ډلگیو وویشی دښمنی پراخي کړی چي له یواې خوا به پرې د اوبو مهارولو پروسه گډه وډه کړی او له بله پلوه پرې د ټاپي ستري پروژې مخه ډب کړی او پاکستان او هند ته به د غازو د لېږد ستره اقتصادی پروژه د خپل هېواد کړی.»

هموطن محترم آقای توریالی ملیار، در بخشی از مقالهٔ خود به معضلهٔ خط نام نهاد دیورند بین افغانستان و پاکستان اشاره نموده ، خاطر نشان می سازد، که بین دولتین افغانستان و پاکستان تنها معضله خط دیورند نبوده بلکه دولت پاکستان از این پا را فراتر نهاده دعوای آبهای افغانستان را نیز می نماید. وی در این مورد اضافه نموده می نویسد:

«که د اوبو مهارولو دغه ستري پروژې بشپړې شی، ټاپی پروژه بریالی شی، کاسا زر سر ته ورسیږی، د ورېښمو صنعتی او سوداگریزه لار ببرته را ژوندی شی، د رېل پټلی له پاکستان او ایران د افغانستان پر سینه منځنی اسیا او چین ته تېرې شی نو افغانستان به د منځنی او جنوبی اسیا ترمنځ هغه پول وی چي بیا به د گڼو گڼو هیوادونه د خپلو گټو لپاره د دغه پله د لا پیاوړتیا لپاره کار کوی، هغه مهال به هغه ځوانان چي توپک په غاړه په بېل او کولنگ سرک او پله ته ماینونه ږدی ملا به یي ترلي وی او په خپل کولنگ او چری به خپلي وراني ویجاړې جوړوی.
د پاکستان لپاره چي له یوې خوا د ډیورنډ کرښي مسله مهمه ده له بله اړخه د افغانستان اوبو مهارول ورته د زغم وړ نه دی، نو له همدې امله د پاکستان له جوړېدو راهیسي تر نن ورځې نه غواړی افغانستان کي ثبات راشی، په دې وروستیو کي یي د افغانستان د بي ثباتی لپاره هلي ځلي دومره پاوړی کړې چي حتی د امنیت سلاکار سرتاج عزیز د پاکستان د بهرنی پالیسی د بدلولو خبره هم یاده کړه او اشاره یي ولسمشر اشرف غنی ته وه چي گواکي دی هم د اوبو په مسله کي د داوود خان پر پل پل ږدی، دا چي د افغانستان لپاره له پاکستان سره د ډیورنډ مسله د اوږد مهال ستونزه ده نو اوس مهال یوازې د اوبو مهارولو ستونزه هغه ښکاره مسله ده چي پاکستان یي له سختو اندېښنو سره مخ کړی

او غواړي په افغانستان کې د جګړې سنګرونه ګرم وساتي او افغان دولت ته دا موکه ورنه کړي چې د کابل پر سیند د بند او بندونو جوړولو ته متې رابډ وهي.
که د اوبو مهارولو دغه ستړې پروژې بشپړې شي، ټاپي پروژه بریالی شي، کاسا زر سر ته ورسیږی، د ورپښمو صنعتی او سوداګریزه لار بیرته را ژوندی شی، د رېل پټلی له پاکستان او ایران د افغانستان پر سینه منځنی اسیا او چین ته تېرې شی نو افغانستان به د منځنی او جنوبی اسیا ترمنځ هغه پول وی چې بیا به د ګېو ګټو هیوادونه د خپلو ګټو لپاره د دغه پله د لا پیاوړتیا لپاره کار کوی، هغه مهال به هغه ځوانان چې ټوپک په غاړه په بېل او کولنګ سرک او پله ته ماینونه ږدی ملا به یې تړلې وی او په خپل کولنګ او چړی به خپلې ورانې ویجاړې جوړوی.»
به یاد دارم در سالهای اخیر جمهوریت که کار سروی بند برق سلما ، بند کمال خان نیمروز، و بند برق ولایت کنر جریان داشت حکومت جمهوری آنوقت به خاطر ساختن بند ولایت کنرکه مصارف آن بالغ از ده میلیارد دالر امریکائی می شود همراه بانک جهانی، بانک آسیائی و بانک اسلامی در تماس بود، تا جائی که برایم معلوم است، بند برق ولایت کنر به مقدار( ۲۳۰۰۰ ) میگا واټ برق تولید می کرد که از آن جمله برق فوق الذکر تنها ( ۳۰۰۰ ) میگا واټ یا کمی زیادتر به تمام افغانستان در آن وقت کفایت می کرد و باقیمانده بیست هزار میگاه واټ آن به کشورهای همسایه فروخته می شد. در این مورد من از ذوات محترمی که در ان وقت در وزارت آب و برق کار می کردند تمنا می کنم که لطفاً در بارۀ سروی بند برق کنر روشنی انداخته و خوانندگان محترم این پورتال را از معلومات پر بهای خود مستفید سازند.
پیش از فاجعۀ هفت ثور ۱۳۵۷ دو بند برق که بالای دریای کابل و پنجشیر توسط کشور فرانسه ساخته می شد، دولت فرانسه مصارف آن بندهای برق را بعد از هفت ثور به خاطر جهاد مردم افغانستان به پاکستان داد، حکومت پاکستان از آن پولی کمکی که اصلاً به افغانستان در زمان جمهوریت شهید محمد داوود مدنظر گرفته شده بود، و حکومت پاکستان از آن کمک فرانسه بند برق ورسک پیشاور یا ډیم ورسک پیشاور ساخت.
من در اخر ماه سال ۱۹۹۸ در پشاور بودم در یکی از روزهای اقامت آقای محمد عزیز نعیم در پیشاور همراه آقایان هر یک ، استاد محمد عزیز نعیم، آقای عزیز الله واصفی، سیدحسن آغا مشهور به شاه آغا برادرزاده بزرگ پیر صاحب سید احمد گیلانی، جنرال رحمت الله خان صافی، عظمت حیات خان پیشاوری به بند ورسک پیشاور رفتیم، آقای استاد محمدعزیز نعیم و عظمت حیات خان پیشاوری در مورد بند ورسک که چگونه این بند ساخته شد به ما معلومات می دادند، محترم عزیز نعیم و عظمت حیات خان گفتند که اصلاً پول این بند برق ورسک پیشاور، پول و کمک فرانسه به حگومت افغانستان در زمان جمهوریت شهید محمد داوود بود که باید به خاطر اعمار دو بند بالای دریای کابل و پنجشیر ساخته می شد، ولی افسوس بعد از کودتای هفت ثور کشور فرانسه آن پول کمکی به افغانستان را به پاکستان داد، آنها معلومات می دادند و مایان اشک می ریختاندیم.
این است شمه ای از میلیونهای ارمغان!! حزب دیموکراتیک خلق که به ملت افغانستان دادند.



عکس اول



عکس دوم

۱- استاد محمد عزیز نعیم

۲- سید حسن آغا مشهور به شاه آغا برادرزادهٔ بزرگ پیر سید احمد گیلانی.

۳- عزیز الله واصفی

۴- معلم، قونسل افغانی زمان ربانی در پیشاور

۱- آریوبی سابق دیپلمات افغان در پاکستان

۲- محمد عزیز نعیم

۳- جنرال رحمت الله صافی

۴- عزیز الله واصفی

عکسها از البوم شخصی قاسم باز

۲۰۱۶/۶/۶